# كله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «کله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ، ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، دا دې هم : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايی، نو دا دې هم : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ووايي او دې به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ووايي، دا به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي، بيا چې مؤذن: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي، دا به هم: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، او دا د زړه نه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ووايي، نو جنت ته داخل شو».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

اذان خلکو ته د وخت د داخلېدلو په اړه خبر ورکوي، او د آذان کلمې د ايماني عقيدې ټولګه ده. په دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اذان د اورېدو پر مهال بيانوي چې اورېدونکی به د اذان کوونکي په څېر الفاظ ووايي، کله چې اذان کوونکی " الله أكبر" ووايي: نو اورېدنکی هم: " الله أكبر" وايي او همداسې وريسې، تر دې چې کله اذان کوونکی "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح"، ووايي نو اورېدونکی به "لا حول ولا قوة إلا بالله" ووايي. او رسول الله صلی الله عليه وسلم دا هم بيان کړه چې چا له مؤذن سره د زړه له اخلاصه (د اذان کلمې) تکرار کړې، نو جنت ته به داخل شي. او د اذان د کلمو معنا (په لاندې ډول ده) "الله أكبر": يعنې دا چې هغه پاک ذات تر ټولو لوی، معزز او له هر شي څخه ستر دی. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعنې له الله پرته پر حقه بل معبود نشته. "أشهد أن محمّدًا رسول الله": يعنې زه په خپله ژبه او زړه اعتراف کوم او شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، د الله لخوا رالېږل شوی او اطاعت يې واجب دی. "حيَّ على الصَّلاة" يعنې لمانځه ته راشئ، او د اورېدونکي دا وينا "لا حول ولا قوَّة إلّا بالله"، دا معنا لري چې د اطاعت له موانعو څخه د خلاصون لپاره حيله او يا د کولو لپاره يې ځواک او قدرت نشته مګر د الله تعالی په توفيق سره. "حيَّ على الفلاح" يعنې د کاميابۍ سبب ته راشئ، چې هغه جنت ګټل او له اور څخه ژغورل دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65086

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee